کار گاه آموزشی دوروزه برای جوانان راه اندازی شد

کارگاه آموزشی دو روزه زیرنام رهبری جوان از سوی موسسه کوانترپارت برای جوانان به تاریخ12 میزان تدویر یافت.

ضیاالحق امیری مسئول موسسه کوانتر پارت در صحبت هایش گفت: این ورکشاپ آموزشی که به هدف ارایه رهمنود های مدیریت ورهبری برای 25 تن جوانان از طبقه ذکور واناث برا ی دو روز راه اندازی شده است در آن برای اشتراک کننده گان دربخش یادشده به شکل عملی ونظری تدریس خواهد شد.

محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر نیز در سخانش تدویر برنامه های آموزشی را برای جوانان نهایت مهم وکارا خوانده ازموسسات خواست تا در راه اندازی چنین برنامه های آموزشی توجه بیشتر نمایند.

آقای پوپل اعتماد سازی را در مدیریت ورهبریت یک اصل مهم خواند

از جوانان خواست که بخاطر این اصل تلاش های جدی نمایند چون رهبران ومدیران آینده کشور را جوانان تشکیل میدهد.

از سوی دیگر یک تن از اشتراک کننده این ورکشاپ تدویر چنین برنامه ها را برای نسل جوان مفید عنوان نمود. **محمدموسی «عدیل»**

ترکومې ورځې به په هیواد کې بدبختي وي؟

په افغانستان کې اوسنی کړکیچن حالات دافغانانو پام هغه لوري ته اړوي، چې هیواد مو څوکاله مخکې دجګړو ډګر ګرزیدلی ؤ. داچې په هیواد کې اوسني ناورین په افغانانو څه اغیزه کوي، داهغه څه دي، چې دښمن له موکې څخه ګټه پورته کوي او څه چې زړه یې وغواړي، هغه ترسره کوي .دسړني کال په لړ کې دهیواد په ځیني سیمو او دپلازمینې کابل په ګډون د بهرڅخه پلان شوي ترهګریز او بمي بریدونه ترسره شول، چې زموږ دهیواوالو د ژوند اخیستو او دټپي کیدو لامل شول .دا ترهګریز او تروریستي بریدونه چې ویل شوي ، په ګاونډ پاکستان کې پلان شوي دخپلو غولول شویو همکارانو په مرسته بیګناه افغانان وژني او هیواد مو په ویجاړیو بدلوي، خو دښمن-دښمن دی، ځکه هغه په هیڅ څیز صرفه نه کوي، چې واربې برابر شو هغه ترسره کوي.

موږ د حکومت ترقیادت لاندې ژوند کوو، ډیر خلک د خپل حکومت ملاتړې دی ، خو په همدې نظام کې داسې لوړ پوړي چارواکي شتون لري چې دحکومت په نړیدو خوښ بریښي او غواړي چې په هیواد کې مخکنی ناورین یوځل بیا رابرسیره شي. ددې لپاره حکومت هیڅ غبرګون نه دی ښودلی، ځکه د ډیرو افغانانو ذهنونه یې بل لوري ته مغشوش کړي او حکومت چوپه چوپتیا غوره کړې ده .دامنو چې جنګ پردی دی، ولې قرباني یې بیګناه ولس ورکوي.

افغان ولس نور د جنګونو څخه ستړي شوي او نه غواړي چې په هیواد کې ستر ناورین رامنځته شي. دوی کوښښ کوي چې د خپل حکومت سره اوږه پر اوږه کار وکړي، خو د حکومت په دننه کې چې شریري او ویجاړونکي کړۍ شته دي، نه غواړي چې هیواد دپرمختګ شاهید و اوسي، ځکه دوی دبهرنیو هیوادونو ګوډاګیان دي ، دوی دوه مخي انسانان دي، که حکومت په دننه کې ستر واک او صلاحیت ورکړ، بیا نو حکومت ته ژمن کسان دي او که د واک نه یې وغورزول، نو دحکومت ستر دښمن هغه دخلکو خبره نور بیا بچه ترسانک کوي او خود مختاره حکومت اعلانوي .ترکله به دالوبې وي؟ ترکله به حکومت هم د داسې مخالفو ډلو په لانجو او پخلا کیدو کې وخت تیره وي او دغریبو له حال څخه به څوک خبر وي . له دغو لوبو څخه افغانان ستړي شوي، نور جنګ نه غواړي، پرمختګ غواړي، سوله ، امن او یووالی غوښتونکي دي، د زورواکو او پردیو جاسوسانو دمحاکمه کولو هیله له دولت نه کوي، دولت نه دټولو افغانانو یوازینۍ غوښتنه داده، چې د وسلوالو مخالفو سره چې ترکوم بریده جنګیږي، په نظام کې فعال واکدارانو مخه هم په هماغه شان ونیسي، ځکه دا دمخالفو وسله والو نه ډیر ضرر رسوونکي دي، همدوی په ښکاره ډول د حکومت پښې وهي.

که چیرته قانون پلي کیږي، باید په ټولو یوشان عملي شي، داچې نن ورځ په خوار او غریب باندې قانون پلي کیږي، زور واکې هم باید د عدالت میز ته راکش کړل شي او ورځنې وپوښتل شي.

ولسونه نور په افغانستان کې د لوبې ختمیدل اود حکومت په چوکاټ کې د زورواکو لرې کول غواړي، ترڅو په هیواد کې شته ناندرۍ او بدبختي له منځه ولاړه شي.

پ لوګرکې د ښوونکو د نړېوالې...

لوګر ښوونکو، د ښوونکو د نړېوالې ورځې د لمانځنې په شاندارو مراسمو کې نوموړي امتیازونه تر لاسه کړل.

په ستایل شویو ښوونکو کې دوه تنه په عالي دولتي مډالونو ، ۱۸۱ تنه د پوهنې وزارت او ۱۷۰ تنه نور د ولایت مقام په تقدیرناموستایل شول، چې ۱۹۳ تنه ښځینه ښوونکې وې.د پوهنې وزارت او ولایت مقام یاد ښوونکي، د ښوونکو د نړېوالې ورځې په درناوي او دغه راز د ښوونکي د سپېڅلې دندې له لارې د ښو خدمتونو له امله وستایل. د یادونې وړده ،چې د لوګر د ښوونځیو غوره ښوونکي په تیرو ښوونیزو کلونوکې هم د پوهنې وزارت او یو شمېر نورو ادارو له خوا پرمډالونواو امتیازي ستاینلیکونو ستایل شوي دي.

یاده غونډه د ښوونکو په درناوي د زده کوونکو له خوا د ترانو، مقالو او یو شمېر لېکنو په لوستلو او دغه راز وتلو ښوونکو ته د مډالونو او تقدیرنامو په وېشلو سره پای ته ورسیده .

دلوګر خبریالانو ته د ...

د ورکشاپ د دریو ورځو په لړکې دخوندیتوب دلومړنیو مرستو په اړه ګډونوالو ته روزنه ورکړل شوه، چې په طبیعي پېښو او جنګونو کې څنګه خبریال ځان خوندي او کومې لارې چارې دي، چې دوی له دغو پېښو څخه ځان ژغورنه وکړي.

د ورکشاپ د پای ته رسیدونکې غونډه کې چې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د مسؤلینو په ګډون جوړه شوي وه، په لوګرکې د افغان خبریالانو د ولایتي کمېټې مسؤل خان ولي احمدزي د دغې ورکشاپ د جوړولو موخه د خبریالانو د مصوونیت او خبریالانو ته د لومړنیو مرستو له لارې استفادې ته پاملرنه وبلله.

دغه راز د لوګر ولایت مرستیال قمرالدین شکیب په دغه ولایت کې د رسنیو او خبریالانو کارونه ښه وبلل او زیاته یې کړه چې رسنۍ د خلکو او دولت سترګې او غوږونه دي او موږ هوډمن یو چې د هغوی ستونزې لرې کړو او د خبریالانو خوندیتوب په خپل کاري لومړیتوبونوکې ونیسو.

د غونډې په پای کې د ورکشاپ په برخه والو د لومړنیو روغتیایي مرستو بستې او تصدیق لیکونه وویشل شول.

نخستین اثر شعری زیرعنوان (دمستری چیغه) ...

همچنان محمد حلیم فدایی والی لوگر نیز در سخنانش برسبک ونوعیت شاعری مستری زلمی پرداخته وافزود که دراشعارمستری زلمی خلاقیت، پیام اخوت، برادری، تلاش ووحدت نهفته است.

وی علاوه کرد که باید جوانان تنها با فراگیری کسب اکتفا نکرده بلکه تعلیم وتحصیل را نیز فراموش نکنند.

والی لوگر افزود که آقای مستری زلمی ستانکزی توانست در پهلوی کسب اش این اثر شعری را نیز به مردم پیشکش نماید که این خود نشانه تلاش وزحمات آن میباشد.

عنایت الله ستانکزی مشهور به مستری زلمی مولف(دمستری چیغه) در صحبت هایش گفت که این نخستین اثر وی است.

که در ۳۱۲ صفحه وتیراژ هزار نسخه به کمک مالی محمد حلیم فدایی والی لوگر به زیورچاپ آراسته شده است.

آقای ستانکزی علاوه نمود که سه اثر دیگر وی تحت عناوین(دجل وهلي غاټول، دوریښمو دستمال او دسنځل ګل وړمی) آماده چاپ میباشد.

محمدموسی «عدیل»

صنایع دستی وآثارهنری ...

بعدآ نمایشگاه دوروزه زیرنام دید جوان به سوی فردای بهتر رسماً توسط رهبری ریاست اطلاعات وفرهنگ ،هنرمندان وجوانان گشایش یافت.

قابل ذکر است که این نمایشگاه دو روز ادامه یافت ودرآن اثر هنرنقاشی میناتوری صنایع دستی زنان وآثار موزیم محلی ریاست اطلاعات وفرهنگ به نمایش گذاشته شده بود. **محمد موسی «عدیل»**

د لوګر بزګرانو ته د اصلاح شویو ...

شکیب ووېل، زموږ ۸۵ سلنه خلک چې په کرنه بوخت دي، نو موږ ته پکار ندي چې له بهرڅخه کرنیز توکي وارد کړو موږ باید کوښښ وکړو، چې پر ځان بسیا ووسو او هېواد دخودکفایي حالت ته ورسو . د لوګر د کرنې رییس محمد دین مومند د دغو غنمو د وېش موخه د بزګرانو فقر له منځه وړل او اقتصاد یې پیاوړتیا رامنځته کیدو یادونه وکړه. محمد دین وویل د کرنې وزارت پرېکړه کړې چې یاد اصلاح شوي تخمونه بزګرانو ته په ۲۰ سلنه تخفیف ووېشل شي. مومند زیاته کړه، دغه تخمونه هر بزګر ته ۵۰ کېلویي بوری، ورکول کېږي چې د دوه جرېبو ځمکې لپاره بسنه کوي ددغو تخمونو ټوله اندازه ۲۰۰ متریک ټنه دی. مومند وویل چې اصلاح شوي تخمونه دمرکز په ګډون دلوګر په شپږو ولسوالیو بزګرانو باندې ووېشل شي. ده هیله مندي ښکاره کړه، چې دبزګرانو په حاصلاتو کې زیاتوالی راشي او راتلونکې کلونو ته یاد تخمونه له ځان سره وساتي.

جامعه وجوانان

پیشرفت، ترقی و انکشاف یک جامعه وابسته به نیروی جوان همان جامعه است. یک جامعه زمانی به رشد و شگوفایی میرسد که جوانانی متحرک، دانا، توانا و نیرومند داشته باشد، زیرا جوانان مهمترین عنصر جامعه بوده که با حرکت شان مسیر پیشرفت، ترقی و انکشاف جامعه را تعیین میکنند. حرکت جوانان باعث تغییر و تحول در جامعه گردیده جامعه را متحرک می سازد. هرگاه جوانان یک جامعه ساکن و بی حرکت باشند توقف شان باعث عقب مانده گی همان جامعه خواهد گردید.

اگر ادوار مختلف تاریخی را مطالعه نماییم، در می یابیم که بر جسته ترین اشخاصی که توانسته اند از خود شهکاری نشان دهند ودراجتماع تغیرات مثبت را رونما کرده همین قشرجوان بوده است. در واقع جوانان ستون فقرات یک جامعه بوده، که از طریق سعی و تلاش در عرصه کسب تعلیم و تحصیل، ترقی و پیشرفت آینده درخشان یک کشور را رقم میزنند. همین نیروی جوان است، که دست به دست هم داده باعث تغییر مثبت و پایدار در جامعه میگردد .از نگاه طرز تفکر ، اندیشه، مسئولیت پذیری و نوع حرکت میتوان جوانان را به انواع و اقسام متعدد تقسیم نمود. یکی از این نوع جوانان را جوانان فعال، متحرک، مسئولیت پذیر و آگاه میتوان نامید ، این گروه از جوانان باعث افتخار جامعه و کشور بوده، نمادی از اخوت، برادری، وحدت،پیشرفت، رشد و انکشاف در جامعه میباشند. جوانان فعال با سعی و تلاش شبانه روزی خود میخواهند تحصیلات عالی داشته، مصدر خدمت به جامعه و افراد جامعه گردند .همچنان این نیروی جوان در مقابل نا رسایی های اجتماعی ایستاده گی و مقاومت نشان داده با فقر، بیکاری، بی عدالتی و تبعیض های قومی مبارزه می نمایند ؛ این ها میخواهند دریک جامعه مرفه، مترقی ، پیشرفته و بدون هر نوع تبعیض قومی، سمتی و مذهبی در فضای صلح زنده گی کنند ، به همین منظور همواره اهداف والا را در جامعه دنبال می کنند .

جوانان که برای آینده خود وکشورخود دورنما وتدبرندارند وزندگی شانرا دربی برنامه گی سپری می کنند وهیچگاهی خود را مسئولیت پذیراحساس نمی کنند بدان که این ها علاوه ازآن که نمیتواند کاروان زندگی خودشانرا به سمت اهداف والا حرکت دهند بلکه باردوش جامعه نیزمی گردند. این بخشی از جوانان در مقابل مشکلات اجتماعی فقر، بیکاری، بی عدالتی و تبعیض های قومی نمی توانند مبارزه نمایند. یک تعداد از این نوع جوانان به اثر جهل و نادانی خود باعث نفاق افگنی و هزار گونه بدبختی ها در جامعه میگردند.

افغانستان کشوریست که تقریباً شصت وهشت فیصد نفوس آنرا جوانان تشکیل میدهند. بحران های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، جنگ وخشونت های که دریک دهه اخیردامن گیرکشورمان گردیده است. این عوامل تاثیرات مستقیم روی افکار جوانان گذاشته ، اکثریت این جوانان دوران طفولیت و نو جوانی خود را در اوج کشمکش های نظامی، در گیری های مسلحانه ، فضای آگنده از غبار خشونت و بد بختی ها سپری نموده است با آن هم برخی جوانان زیربارهمه این چالش ها نه رفته استعداد وتوانایی شانرا به رخ جهانیان رونما کرده اند. تشویق جوانان درعرصه کسب علم ودانش،ایجاد فرصت های کاری وتامین امنیت ازگزینه های اساسی درایجاد صفحه جدید جوانان برای آبادانی کشورمحسوب میگردد، از اینکه جوانان نیروی سازنده جامعه و آینده سازان یک کشور پنداشته می شود پس بر ماست تا مسؤلیت خود را در قبال جامعه و کشور درک نموده، در ترقی و پیشرفت میهن عزیزمان از هر نوع جانفشانی و فدا کاری دریغ نه ورزیم.

نویسنده : اجمل " امیری "

د ښوونکي مقام

دبشر تر ټولو لوی ښوونکي پیغمبران دي، چې الله تعالی وخت په وخت د بشري ټولنو د اصلاح له پاره رالیږلي دي. دالله تعالی دې استازو او دښوونکو تر مرګه الهي علم خپور کړی او بشر ته رسولي دي. دعلم او ښوونکي تر منځ په لفظي او معنوي دواړو لحاظونو ښه کلک تناسب دی، ښوونکي د ټولنیز ژوند د وجود د طبیبانو حیثیت لري. دوی باید چې د ټولنې دردونه درمان کړي. که په یوه ټولنه کې د جهل رنځ په خپریدو شي معنی دا چې ددې ټولنې ښوونکي خپل وجایب په ښه ډول نه دي تر سره کړي. ښوونکي باید په خپلو زده کوونکو کې داسې اخلاق وروزي، چې زده کوونکي یې په راتلونکي وخت کې د انساني ژوند له پاره د خیر او ښېګڼې سبب وګرځي.

که مونږ په نني دور کې د مسلمانو ملتونو ژوند ژواک ته ځیر شو نو په دې خبره رسیږو، چې مسلمانان له ډیرو سختیو سره مخ دي. تر ټولو اول نفاق لویه بدبختي ده، چې مسلمان ښوونکي یې باید په له منځه وړلو کې هلې ځلې وکړي. له بله پلوه وینو، چې د مسلمانانو له شته و او زیرمو د نړۍ نور خلک ګټې پورته کوي.

ددې وجه خو داده، چې مسلمانان تر ډیره له عصري علومو او عصري تکنالوژۍ محروم او بې برخې دي. که مسلمانان په عصري علومو کې د نورې نړۍ غوندې زیار و باسي او له نورو سره سیال شي بیابه هېڅ غاصب ددوی شان ته په سپکه ونه ګوري.

دا هم په لومړۍ کې د ښوونکو وجیبه ده، چې د خپلو زده کوونکي ته داسې روزنه ورکړي ، چې ددیني علومو تر څنګ یې د عصري علومو په ارزښت هم و پوهوي. دښوونکي ایماني او وجداني دنده ده، چې د علم په رڼا نور انسانان هم د جهل له تورتمه را وباسي.

دا دښوونکي ځیرکي او پوهه ده چې د خپلو زده کوونکو په روحیاتو پوه وي. د هر زده کوونکي سلیقه او د استعداد ساحه ورته معلومه وي. زده کوونکي دې هغه څه ته ډیر تشویق کړي چې ددوی استعداد په کې ډیر وي. زده کوونکي هم باید دښوونکي د مقام درناوی وکړي. دا ځکه چې ښوونکی ددوی روحاني تربیت کوي دعلم په رڼا کې د ښوونکي درجه څومره اوچته راغلې ده. په رښتیا هم چې ښوونکی ډیر حقدار دی.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې دښوونکي حقوقو او مقام ته څنګه چې حق یې ده، هغسې پاملرنه نه ده شوې که دولت د ښوونکي د مقام په رڼا کې ددوی ژوند ته پام وکړي، که ددوی د ژوند په بسیا کولو کې مرسته وکړي د زده کړې نظام به لوړو پوړیو ته ورسیږي.

معارف او پوهه د انساني ژوند پاخه بنسټونه دي. په کومو ټولنو کې چې دا بنسټونه قوي دي د هغو ټولنو د ژوند مانۍ ښکلې او دنګې دي. له بده مرغه که موږ خپلې ټولنې ته ځیر شو زموږ د ښوونکو ژوند ډیر خوار دی. ددوی معاشونه تر یو اندازې کم دي. زموږ ډیر شمېر ښوونکي او استادان کورونه نه لري. بایده چې دولت په دې برخه کې بې پروایي ونکړي ښوونکی په انساني ټولنه کې د لوی مقام خاوند دی او د هغې سپیڅلې دندې ویاړ پر غاړه لري چې د هغه پر بنسټ یوه علم پاله، منوره او ښکلې ټولنه رامنځته کیږي.

لیکنه : بصیره « شجاع »